
پوهندوی آصف بهاند

# همدې ته وايي په پوهنتونونو کې د نجونو جنازې

«طالبانو ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونو کې د نجونو زدکړې وځنډولې»

**د نجونو پرمخ د ښوونځیو او پو هنتونونو دروازې تړل، د افغانستان او افغانانو لپاره یوه نه هېرېدونکې توره ورځ ده.**




د دې غمجنو کرښو په پیل کې باید عرض وکړم چې د افغانستان د وروسته پاتېوالي یو اصلي لامل، زموږ په خلکو کې د تعلیم د کچې ټیټوالی دی، اوس نه یوازې د خلکو د تعلمي سطحې د لوړوالي لپاره کار نه کېږي، بلکې د وخت په تېرېدو سره یې نور هم د تعلیم مخه نیول کېږي.

د پرون ورځې (۲۰۲۲/۱۲/۲۰) ترټولو خواشینونکی خبر دا و چې نويو واکدارانو په ټولو پوهنتونونو کې د نجونو د زدکړو د درولو امر کړی دی. په بي بی سي پښتو کې داسې راغلي دي:

«طالبانو ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونو کې 'د نجونو زدکړې وځنډولې'

له افغانستانه رپوټونه وايي، د طالبانو حکومت د لوړو زدکړو وزارت ويلي، ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونو او د لوړو زدکړو موسسو کې د "نجونو تحصيل تر امري ثاني" پورې ځنډېدلی.

ياد وزارت ته په منسوب يوه مکتوب کې چې د لوړو زدکړو وزارت د وياند پر ټوېټر پاڼه خپور شوی، ويل شوي چې "د ۱۳۴۳ کال د ۲۸ مې ګڼې مصوبې پر اساس تاسې ټولو ته خبر درکول کېږي چې د اناثو تحصيل تر امر ثاني پورې معطل دی".

په دغه مکتوب کې د دې پرېکړې د "ژر عملي کېدو" سپارښتنه شوې.

د طالبانو د لوړو زدکړو وزارت يوه چارواکي بي بي سي پښتو پاڼې ته ومنله چې دغه اکونټ د لوړو زدکړو د وزارت د وياند ضيا هاشمي دی.

د دې مکتوب په پای کې د طالبانو لوړو زدکړو وزير ندا محمد نديم لاسليک او په سر کې يې بيا د ۱۴۴۴ قمري کال د جمادي الاول مياشتې ۲٦ مه نېټه ليکل شوې ده.

د افغانستان په ختيځ کې د يوه دولتي پوهنتون استاد هم بي بي سي پښتو پاڼې ته وويل چې دغه مکتوب پرون "دوشنبه" ناوخته دوی ته رسېدلی دی...»


د افغانستان اسلامی امارت
د لوړو زده کړو وزارت
امارت اسلامی افغانستان
وزارت تحصيلات عالی
د دفتر رياست
د تحرير اتو أمريت
د اسنادو او اريکو لوی مديريت
شماره " ۲۲۷۱ "
نېټه : ۲۶/جمادی الاول/۱۴۴۴ هـ ق
نېټه: ۲۹ /قوس/۱۴۰۱ هـ ش
شماره رسيدات:
ضمايم:

ټولو امارتي او خصوصي مؤسسو او پوهنتونونو ته !

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

الله تعالی مو په ټولو چارو کې بريالي او موفق ولره.

د کابينې د ۱٤٤۳ هجري قمري کال د ۲۸ مې ګڼې مصوبې د پرېکړې په أساس تاسې ټولو ته خبر درکول کېږي، چې ياد حکم (چې د أناثو تحصيل تر أمرثاني پورې معطل دی) عاجل عملي کړئ او د خپلو اجراأتو څخه د وزارت مقام ته اطمينان ورکړئ.

والسلام

شيخ مولوی ندا محمد «نديم»
د لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزير

همدې ته وايي په پوهنتونونو کې د نجونو جنازې

«ما سورګل ژاړه چې تورګل يې پرخره سپور راوړ» موږ له شپـږم نه تر دولسم پورې د نجونو د تړلو ښوونځيو لپاره مبارزه او هڅې کولې، واکدارانو د پوهنتون دروازې هم د نجونو پر مخ وتړلې. اوس په کومه ژبه، څه ډول او چا ته عرض کوې چې دا کار له هېڅ ډول قوانينو سره نه دی برابر.

سره له دې چې خلکو، میډیا کور دننه او بهر خپلې ژبې او قلمونه چلوي، عرضونه، نیوکې او رپوټونه پیل شوې دي؛ خو...

د تاند په یوه رپوټ کې د نجونو پر مخ د ټولو پوهنتونونو د دروازو د تړلو اړوند داسې راغلي دي:

«تاند (سې شنبه/ د قوس ۲۹مه) — د طالبانو حکومت په یوه تازه او بدوي اقدام کې د نامعلومې مودې په مخه د افغان نجونو پر مخ د پوهنتونو او لوړو زده کړو د موسساتو دروازې وتړلې.

د طالبانو د لوړو زده کړو وزارت له خوا خپره شوې یوه اعلامیه کې چې تاند ته را رسېدلې، او د دغه وزارت سرپرست وزیر شیخ ندا محمد لاسلیک کړې، راغلي چې ټول امارتي (دولتي) او خصوصي پوهنتونونه او موسسات دې د نجونو د تحصیلاتو د تعطیل حکم په عاجل ډول عملي کړي او وزارت ته دې اطمینان ورکړي.

طالبانو په خپله لومړۍ دوره کې هم ویلي وو چې نجونې یې له زده کړو څخه تر امر ثاني پورې منع کړي دي، خو له ۱۳۷۵ څخه تر ۱۳۸۰ پورې چې د نړۍ وال ائتلاف له خوا یې واکمني نسکوره شوله، طالبانو نجونو ته د زده کړو اجازه ورنه کړله. د اناثو تحصیل معطل دې تر امر ثانې پورې

د طالبانو یو شمېر مخالفان وایي، چې دغه ډله په افغانستان کې د مدني او عصري پروګرامونو د مخنیوي حکم له پاکستاني استخباراتي ادارو څخه ترلاسه کوي او بیا یې عملي کوي او نور په دې نظر دي چې پخپله د طالبانو په ډله کې یو شمېر ملایان منجمد فکر لري او غواړي چې افغانستان د هغوی په لنډ فکر سره نه یوازې د مېږي په مزله مخکې لاړ شي بلکې په ناخبرۍ کې هېواد شاته بیایي.

د تاریخي اسنادو له مخې، د نړۍ لومړنی پوهنتون په ۸۵۹ میلادي کال کې یعنې له اوس نه ۱۱۶۳ کاله پخوا مسلمانانو په مراکش کې جوړ کړ چې د اسلام طلایي دوره کې یې ګڼ شمېر کدرونه او پوهان وروزل.

له هغه وروسته، تر ننه پورې د نړۍ په لسګونو اسلامي هېوادونو کې هېڅ هېواد هم د نجونو پر مخ د ښوونځیو او پوهنتونونو دروازې حتی د یوې ورځې لپاره هم نه دي بندې کړي.

په افغانستان کې کابل پوهنتون لومړنی پوهنتون و چې په ۱۹۳۲ کې یعنې له اوس نه ۹۰ کاله مخکې د اعلیحضرت محمد نادرشاه د واکمنۍ پر وخت چې افغانستان له سقوي ورانکارۍ څخه وروسته د بیارغونې په لور حرکت پیل کړ، جوړ شو او تر اوسه یې په لسګونو زره نارینه او ښځینه کدرونه ټولنې ته وړاندې کړي، خو دا لا معلومه نه ده چې دا او د افغانستان نور پوهنتونونه به تر کله د نجونو پر مخ تړلی پاتې شي.»

د طالبانو له بیا ځلي راتګ سره د چیز فهمه خلکو وړاندوینه دا وه چې د نجونو د زدکړو په برخه کې به نوي واکداران نه یوازې دا چې نرمښ غوره نه کړي، بلکې ورځ تربلې به د ښځینوو، په تېره د ښوونځیو زدکونوکو او د پوهنتونونو د ښځینه زدکونکو مخه ډب شي. همداسې هم وشول او دا پروسه نوره هم پرمخ بېول کېـږي.

پر پوهنتون او او لوړو زدکړو باندې د نويو واکدارانو تمسخر هلته پيل شو چې يو عادي د علمي صلاحيت نه لرونکی انسان يې د يو باتجربه  او لوړو زکړو خاند پوهاند پرځای، د پوهنتون رئَس وټاکه او پوهاند ډوکتور بابري يې د د هغه سلامي ته ودراوه:



دا يې د تقرر خبر او ورسره عکس العملونه دي:

«ښاغلی غيرت دوه ورځې وړاندې د کابل پوهنتون سرپرست رئيس وټاکل شو
د کابل پوهنتون نوي سرپرست رئيس محمد اشرف غيرت بي بي سي ته وويل، دی اوسمهال پر خواله رسنيو هېڅ کومه پاڼه نه لري او ده ته منسوب ټويټونه او څرګندونې ټول جعلي دي.

نوموړی وايي، د ده پخوانۍ فېسبوک پاڼه تړل شوې او يوازې تېرو څو ورځو کې يې په نامه لږ تر لږ لس جعلي پاڼې جوړې شوې دي.

ښاغلي غيرت همدا راز وويل، هغه ټويټ هم ده پورې اړه نه لري چې پکې د خبريالانو د وژنې سپارښتنه شوې ده.

ښاغلي‌غيرت بي بي سي ته وويل: "پخوا زه يو غير رسمي کس او مبارز وم. د خپلې ايديولوژۍ او نظام لپاره مې مبارزه کوله. ډېرو رسنيو پخوا طالب ته د ترهګر خطاب کاوه. خو اوس يې نظام بولي. هغه وخت ځينو ژورنالېستانو او خلکو په طالب پسې تبليغات کول. خو په مقابل کې يې د طالب د مبارزې دستګاه هم تبليغات کول. شرايطو تغير کړی. نن زموږ دنده، مسؤليتونه او کاري ساحه متفاوته شوې ده. تېر هېر شوي دي".

محمد اشرف غيرت همدا راز وايي، دا د ده صلاحيت نه دی چې نصاب کې بدلون راولي، بلکې دا کار نظام او د ټولنې عيني شرايطو ته په کتلو سره ترسره کېږي.

نوموړی وايي، په دې اړه يې کوم ټويټ نه دی کړی او نه يې هم کومې رسنۍ ته څه ويلي دي...»

د پوهنتون د ریاست او لوړو زدکړو وزارت د نورو علمي بستونو له پاره د غیر مسلکې خلکو ټاکلو په عکس العمل کې د پوهنتون د استادانو اتحادیې هماغه وخت دا اعلامیه خپره کړه:

«بسم الله الرحمن الرحیم
د افغانستان پوهنتونونو د استادانو سرتاسري اتحادیې اعلامیه!
إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤدُّواْ الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا...(النساء ۵۸آیت)
د عدل او انصاف خالق، لوی خدای (ج) په سپېڅلي نامه
او د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه و آله و سلم روح ته په درود ویلو سره .
څرنګه چې ټولو ته څرګنده ده، چې په ټوله نړۍ کې هم په اسلامي هیوادونو او هم په غیر اسلامي هیوادونه کې په لوړه کچه د وزارتونو په پوستونو کې د حکومتولۍ او مدیریت لپاره د حاکم قدرت او نظام د پالیسیو سره سم معمولاً سیاسي افراد او اشخاص ګمارل کیږي؛
خو په اکاډمیکو بستونو، پوهنتونونو او لوړو زده‌کړو مؤسسو (ریاستونه او معاونیتونه چې اکاډمیک بستونه دي) کې په کار پوه، متخصص، تجربه لرونکي او مسلکي کسان چې لوړې زده‌کړې او علمي رتبې لري، د هیوادونو د لوړو زده‌کړو ملکي قانون سره سم، په انتخابي یا انتصابي ډول مقرریږي، ترڅو په پوهنتونونو کې تحصیلي بهیر په علمي او اکاډمیک ډول او د وخت له غوښتنو سره سم وده او پرمختګ وکړي، خو له بده مرغه چې زموږ په هیواد کې دا چاره سرچپه روانه ده.
نو د ا- ا - ا له چارواکو څخه غوښتنه کیږي چې د چارو ښه‌والي په موخه او د پوهنتونونو حقوقي حیثیت په پام کې نیولو سره، چې د علم - پوهې، څېړنې او هیواد بچیانو د سالمي روزنې ځای دئ، له هر ډول سیاست، لوبو او سیاسي رژیمونو تړاو څخه پاک او لرې دئ، په علمي-اکاډمیکو بستونو کې په علمي معیارونو برابر او مناسب کسان تعیین او توظیف سي.
په پای کې د افغانستان د ټولو پوهنتونونو ښاغلو استادانو ته خبر ورکول کیږي چې که د ا- ا- ا د یوې اوونۍ په ترڅ کې د (لوړو زده‌کړو او مرکز او ولایتونو پوهنتونونو) برخه کې پر خپلو تصمیمونو او کړنو له سره غَوَر ونه‌کړي؛ نو د افغانستان پوهنتونونو د استادانو سرتاسري اتحادیې راتلونکي تصمیم ته دي په تمه وي .
و من الله التوفیق!
د افغانستان پوهنتونونو د استادانو سرتاسري اتحادیه»

د استادانو د دې اعلامیې پر موادو او غوښتنو او نورو نیوکو باندې چارواکو غوږ هم ونه ګراووه.

دا هم د نویو واکدارانو د لوړو زدکړو د لومړني سرپرست وزیر په نامه د یو افغان ځوان لیک، چې د دوه زره یوویشتم کال د اکتوبر پر شپږمه (۲۰۲۱/۱۰/۰۶) باندې په ټولنیزه میډیا کې خپور شوی دی:

«د لوړو زدکړو سرپرست وزیر ته د کامران احمدزي لیک:

وزیر صیب سلامونه!

پوهېږم غږ به مې در ونه رسيږي؛ ځکه ته د يو داسې ملت په پوهونه بوخت يې، چې ستا پر منطق يې تېر شل کاله په جهالت کې تېر کړي؛ خو بيا هم هغه د الفت صيب خبره:
"يو پټ غلی احساس دی چې ارام مې نه پرېږدي"
ضمير مې مجبور کړی يم، چې ځينې خبرې درته له هر ډول ويرې پرته وکړم.
منم په تېر نظام کې داسې سيمې وې، چې مکاتب يې شاړ/نيمه شاړ/ او يا هم د جګړو سنګرونه ول؛ خو پر همدې سيمو ستاسې واکمني وه.
منم، چې تېر کې ځينې زده کوونکي و، چې مکتبونه يې درست ونشوی ويلای؛ خو دا هغه خلک و، چې پلرونه او د کورنۍ سرپرستان يې، يا له تاسې سره په جګړه کې ووژل شو او يا ستاسې په ليکو کې؛ نو د بې سرپرسته کورنۍ سرپرستۍ ورته په داسې عمر ورپاتې شوه، چې ان خدای پاک هم پرې حق نه درلود!
زه به ستاسې پر منطق درسره خبره وکړم. سمه ده، چې تاسې په شل کلونو کې ۴۲ هېوادونو ته ماتې ورکړه؛ خو ښايي ۱۱ کلن هلمندی صبغت الله دې هېر وي، چې په رياضياتو کې يې ۴۰ هيوادونو ته ماتې ورکړه.
ممکن د هراتۍ نجونو روباټونه دې هېر وي او همداسې په سلګونه بېلګې شته، چې د روښانه افغانستان استازولي يې کوله، چې دا هر څه تېر نظام کې د تعليم لاسته راوړنې وې.
زمونږ د لوړو زدکړو وزارت هر کال بهر هېوادونو ته سلګونه محصلين لېږل او هر کال به په يو نه، يو هېواد کې افغان بچي وياړ ګټلی و؛ هر کال به زمونږ جوپې جوپې افغانان له بهره ډکې منګولې مور وطن ته را ستنېدل.
ښايي تېر کلونه به تاته په هېواد کې د کفر اوج ښکاره کېده؛ خو دلته زرګونه جوماتونه جوړ شول، مدرسې جوړې شوې، د قرانکريم لوی لوی تفسيرونه وليکل شول؛ له دې ور هاخوا، د مکتب په دوران کې مو د اسلام ټول لومړني مسائل ولوستل، د پوهنتون په دوره کې مو د اسلام، کورنی، اقتصادي، سياسي او اخلاقي نظامونه؛ قران پوهنه، نبوي سيرت.... ولوستل او بلاخره د عصري علومو ترڅنګ مو ښې ډېرې ديني زدکړې وکړې، چې همدا اوس هم اکثره ملايانو ته په ديني مسائلو کې د مناظرې چيلنج ورکوم.
زه درنه ګيله نه کوم؛ پر افغانستان د تالبانو بيا ځل واکمني ډېره ناڅاپي او د توقع خلاف وه؛ شايد ته به هم همدومره ناڅاپي د خپلې تمې خلاف وزير شوی يې؛ خو يوه هيله درنه ضرور لرم.
لاړ شه او زمونږ د پوهنې او لوړو زدکړو نصاب وګوره!
که مې منې؛ نو راځه له پېغورونو څه نه جوړيږي، معاصره نړۍ هغه څه غواړي، چې په تېر کې روان ول.
پخواني کادرونه د سلګۍ باران په څېر وستايه، له فکرونو يې ګټه واخله، وجودونه يې مه محوه کوه، مه پرېږده چې افغان ماسټر دې يو ځل بيا د پاکستانيو پر ډېران پراته کاغذونه د خرڅ لپاره راټول کړي، ترکيه کې دې مېږې وڅروي، ايران کې دې د غواګانو فارمونه صفا کړي....
د خلکو زدکړو ته احترام وکړه، يو لوی مسؤليت در سپارل شوی، د نړۍ درته پام دی، راشه له خپل دريځ واوړه، افغان محصل په غېږ کې کلک کړه، پوهنتون ته يې د تګ لپاره يو وار بيا وجوداً او ذهناً اماده کړه، افغان دوکتور ته قلم ورکړه، د تختې مخ ته يې ودروه او د يو اباد افغانستان پر لور ګړندي ګامونه واخله، تر څو؛
چې دا کاڼي لالونه شي او دا بوټي لونګ شي!
ګني بيا به؛

یو باتور ملت غرقیږي
یو مظبوط وطن نړیږي
وما علینا الالبلاغ»

دې او دې ورته د نورو غړونو جګول نه یوازې ګټه ونګړه، بلکې نویو واکدارانو خپلو نویو غیرعلمي پالیسیو ته نور هم دوام ورکړ.

د لوړو زدکړو په برخه کې که د نویو واکدارانو کړنې په تفصیل سره یادې کړو، خبره به د یوې مقالې له چوکاټه ووزي، دلته به یوازې د ځینو هغو کړنو سرلیکونونه راواخلم چې د لوړوزدکړو په برخه کې د دوی د جفاګانو ښکاره بېلګې بلل کېدای شي:

تاند:

«د لوړو زده کړو وزیر تازه پلان، د ط ملایانو ته علمي رتبې ورکوي.»

تاند:

«د کابل پوهنتون رییس: ښځینه استادانې دې پوهنتون ته نه راځي.»

ازادي راډیو:

«طالبان: دولتي پوهنتونونه د اقتصادي ستونزو له کبله تړلي پاته دي.«

بي بي سي پښتو:

«د بي بي سي موندنې: د افغانستان له ۳ پوهنتونونو کابو ۲۲۹ استادان له هېواده وتلي.»

تاند:

«مولانا حقاني د کابل پوهنتون استادانو ته له سپکاوي ډکه وینا کړې ده.»

بي بي سي پښتو:

«طالبانو ښځینه زدکوونکې په بېلا بېلو برخو کې له ماسټرۍ کولو منع کړې دي.»

بي بي سي پښتو:

«د طالبانو لوړو زدکړو وزیر؛ په طالبانو کې "چې هر چا ډېر ماینونه پټاو کړي وي، هغه ډېر ممتاز دی"»

د نجونو پرمخ د لوړو زدکړو د مؤسسو دروازو تړل د ټولو ملي او نړیوالو قوانینو پر خلاف داسې عمل دی چې هېڅ توجه نه شي لرلای او د دې عمل ترسره کونکو پر ډېرو اصولو پښه واړوله.

د طالبانو د دې عمل په مقابل کې ډېر خلکو په بېلابېلو ډولونو غبرګونونه وښودل، دلته به د څو تنو فرهنګیانو عکس العملونه او پیامونه راواخلم:

محبوب شاه محبوب:

«د نړۍ ټول اسلامي هېوادونه سعودي، ترکیه، ایران، قطر، مالیزیا... او حتا د تا|لبانو معنوي پلار پاکستان هم پر جونو د تعلیم دروازې نه تړي مګر زموږ والو بیا نوی اسلام کشف کړی پر جونو یې د ښوونځیو او اوس د پوهنتون دروازې هم وتړلې.
د وطن پر لوڼو د رڼا د دروازو تړل نه افغانیت دی او نه هم اسلامیت!؟
په ما صرفه دې د هر ظلم هغه ګران نه کوي
خو چې سبا په ټیټو سترګو بیا ارمان نه کوي»

مطیع الله ویسا:

«د نجونو ښوونځي ، پوهنتونه بندول یوازي همدي نتیجي ته رسوي چې د پردیو محتاج ، خپل ولس خفه کول، دخپل ولس نه د زده کړو اسلامي ، انساني حق اخیستل ، خپل ولس په تارکیوکې ساتل ، نور هیڅ نتیجه نلری او راتلونکي به دداسي پریکړو جبران بیا نسو ورکولی.

لطفا ښوونځي او پوهنتونونه مه بندوئ»

عصمت قانع:                    :

«شیر مست حوالدار دملا میرزا اخند دزیارت منجاور وو
په خرپ چرسي ، بنګي نیشه یی او ډانګه یی وو
نه یې لمونځ کاوه نه یې روژه نیوله نه یې کلیمه ویله او نه ددین په ټکي خبر وو خو اته ګزه دسپین ململ لنګوټه به یې تړله
دهرې جمعي په شپه به یې په زیارت کې دبنګ اب میله کوله
یوه ورځ یې بې توله نشه کړې وه
جومات ته راغی او دمحراب خواته ودرید ویل مخلوقه خبره مې واورئ
لمونځ مه کوئ روژه مه نیسئ
ذکات مکات هم مه ورکوئ کلیمه مې هم دربنلي ده ما ماښام پیران پیر په خوب ولید ویل یې بنګاوه وخورئ چې ټول ګناهونه مو ومینځي
وطنوالو
افغانستان دڅلور و پنځو منجاورانو په لاس ورغلی دی

ددین په نامه یې دنیشي په حالت کې دبیدینۍ څاه ته ور غورځوي
درڼا پرځای یې دتاریکي قهقرا ته ورلږه کوي
ملت مړ دی او وطن هدیره ده منجاورانو پر ټولو دیني اوامرو بندیز لګولی دی
وخ وخ
هم یهودو ته هم نصاراوو ته هم هندوانو ته او هم بت پرستانو ته ټیټې سترګي ګورو
خدایه توبه مو قبوله کړي»

عبدالوهاب باور:

«د جـنـازې اعـلان دې وشـو د مـلا نــه یاره!
تـا دې خدای و ښې شـهـیـد افغانستانه یاره!

اقـراء کـافـره شـوه او ډزه مسلمانـه یـاره!
د زنده ګۍ نـه یې ساه و ویسته ایمانه یاره!

تـه بـه نـو کله اسرافیله دا شپیلـۍ پو کوې؟
ته به نو کله پر موږ ګرز وهې اسمانه یاره!

د یلدا ـ په ده ښه اوږده ښه کلک تصمیم و نیسه
نور دلتـه شپـې سـبا کـېدای نشـې افغـانـه یاره!

بـاوره! ټـول دې پېښَکي فـاتحـه واخـلـي خـپـلـه
ښـار د ژونـدیـو شو بـتـر لـه قـبـرسـتـانـه یـاره!»

د نجونو پر مخ د ښوونځیو او پوهنځیو د دروازو د تړلو عمل داسې مثال لري چې د دې عمل ترسره کونکو بیلچې اخیستې دي او د ځان د بربادۍ لپاره کندې شکوي.

زه باوري یم چې د افغانستان خلک، ځوانان؛ په تېره نجونې ـ پېغلې او ټول ښځینه به له ټولو ستونزو سره ـ سره بریالۍ کېږي او ځانونه به تر رڼا او انساني ژوند پورې رسوي.



www.dawatmedia24.com